پردیس خیالونه

د شعرونو مجموعه

سمیع الدین افغاني

دوهمه دا چه((دا زه پښتون یم ته هزاره یې)) او ((دا زه فارسي وایم او ته پښتو)) خبره د یو لړ نا بالغو ٠ په نامه روښانفکرانو ، د غرض او مرض خبري دي٠ او نور پاته اولس ، لوی او واړه ، پښتون او هزاره او ٠٠٠٠ په یو صف کښې ولاړ دملي هنر ((ښکلي جانان)) ته دمینې سلام وړاندې کوي او تر ښکلا یې ځاریږي ٠٠٠٠ د تېرو هېرو خاطرو همدې خوږو خوندونو سره کور ته ورسیدم ، د افغانې صاحب د شعرونو د مجموعې د خیالونو نور خیالولي شعرونه مي هم و لوستل ٠دغسې ((د یار دمینې)) نورې سندرې هم٠ یوازې دا نه ، دوطن او ملت ، د افغان او افغانستان دمینې سندرې هم٠ او یوازې ، د محبت ، صداقت ، افغان ، دا افغانستان دی ، دا څه حال دی ؟تر عنوان لاندې منظومې نه ، بلکه دغسې نور غزل او نظمونه هم ، د ویناوال ددغسې مینې څرګندوی دي٠

ما ډیرې خبرې وکړې٠ زه خپلې خبرې بسوم٠ تاسې لطفا ما وبخښئ او

مجموعه ولولئ٠

په درناوي

ستاسو خدمتګار

عبدالله بختانی

کابل - خیرخانه

د ۱۳۸۸د زمري۱۲ مه

د ۲۰۰۹ د اګست درېیمه

سندره ویله
زما ښکلی جانانه
زه جار شمه له تانه ۰
ما مه شړه له ځانه ۰
قربان دې شم ۰
قربان دې شم۰
السلام۰
السلام۰

ښاغلي رحيم ګل غمزده خپله دغه سندره په هماغه وختونو په کابل راډيو کښې ويلې وه۰ په محافلو کښې يې هم اوروله او د ځينو نورو سندر غاړو له خوا هم ويل کېدله۰ او تر او سه اورول کېږي۰

زه چه دغو خږ سرو سندر بولو ماشومانو ته نژدې شوم۰ ورته ودرېدم۰ بيا مې ورسره لږه مرکه هم وکړه ۰وپوهېدم چه دا هلکان د همدې ښار او سيدو نکي په ختږه هزاره ګان ديي۰ او ژبه يې دري ده ۰۰۰۰

سبا ته د پښتو ټولنې غونډه جوړه شوه ، نو ما دا کيسه وکړه او زياته مې

کړه:

دا خبره سمه نه ده چه موږ وو ايو فارسي ژبي د پښتو مخه نيسي۰

د کابل ښار فارسي ژبي هزاره ماشومان چه په خوند خوند ، په ډير شوق و ذوق ، پرته د چا د وينا او تقاضا نه ، پښتو سندره وايي او خوند تري اخلي ، د دوو حقيقتونو څرګندونه کوي :

لمړئ دا چه په سندره کښې هنري زور دومره زيات دی چه يو ازې د پښتنو نه ، يو ازد سندرغاړو نه ، يو ازې د مشرانو نه ، بلکه د کوڅې ماشومو هزاره ګانو په زړونو او ذهنونو يې هم دومره اغېزه کړی دی چه دغه سندره په ډېر شوق و ذوق او احساس د هغو په ژبه جاری شوې ده ۰۰۰۰

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم		پردیس خیالونه

شاعر		سمیع الدین افغاني

د چاپ کال		۲۰۰۹ میلادي

د چاپ شمېر		۵۰۰ ټوکه

د چاپ وار		لمړی

کمپوز		سمیر افغاني

ټولګه		دوهمه

د چاپ ځای

د حق د لارې کلتوري ټولنه – جرمني

ډالی

زما د خواږه پلار

اروا ښاد مولانا محمد سعید سعید افغاني

پاک روح ته۰

کښې رښتیا او دروغ شکایتونه کول٠ ځینو به زور واهه چه د یو لږ قالبي الفاظو او علمي ترمونو اولغتونو په استعمال خپل علمیت او لیاقت ثابت کړي٠ د نورو ملګرو مشخصې خبرې رانه هېرې شوي دي٠
خو زما د لنډو وړاندیز لنډیز داسې کېدای شي :
په ځینو طبعي خصلتونو کښې ، فرد او ټولنه ، یو تر بله سره ورته والی لري٠ که یو فرد خپله روغتیا وساتي ، ورزش وکړي٠ سم او مناسب خوراک ولري او ځان قوي او مضبوط کړي ، که له بهره څخه وجود ته یې مکروبونه هم ننوځي ، د هغه د وجود مقاومت په اثر د هغه مکروبونو اغېزه کمېږي یا له مینځه ځي نو که ټولنه ، خصوصا پښتو ټولنه او د هغه غړي سم کار وکړي ، د ښې مطالعې په اساس د منطق او استدلال او علمي اسنادو او شواهدو سره ښې لیکنې او تالیفات ټولنې ته وړاندې کړي ، بیا نو ټولنه پخپله ، مور په کار قناعت کوي ، چاته د مخالفت څه موقع په لاس نه ورځي او که ورشي هم مخالفت یې دومره تاثیر نه کوي ٠٠٠٠
وزیر صاحب خپل ساعت ته وکتل٠ ویل: دولس بجې شوې په کاروو کښې ستاسو بریالیتوب غواړم٠ تاسې خپلو کښې سره کښېنئ ، د همدغو خبرو په اساس خپل کارونه تنظیم کړئ٠ که ماته مو څه امر کاوه و رسمي وړاندیز راته وسپارئ٠ زه ستاسو په خدمت کښې یم ٠٠٠٠ د خدای په امان٠
د پښتو ټولنې رئیس مور ته وویل : تاسې نور هم فکر وکړئ٠ ددې خبرو په اساس ، اوکه تاسو سره نور نظریات هم وي ، سبا به سره کښېنو او ٠٠٠٠

مازیګر زه د استاد الفت د لیدو به تکل وخوزېدم٠د هغه کور د ((چمچه مست)) د خوړ په غاړه ، په ښهر شاه مېنه (څلورمه کارته) کښې و ٠ ور روان وم٠ هلته د کارتې د کوڅو په دوړو کښې پینځه شپږ تنو ماشومانو په جګ اواز

په هغه زړو ورسته پاته زمانه کښې زمور یوازې یو وطنپال دغسې و ٠ اوس پدې ورسته وروسته زمانه کښې ماشاالله زممور ډېر وزیران دغسې دي چه وطن پرې ګران دی٠ مګر پدې ګران وطن کښې په هغه مهال جرءا و سېږي چه دی پکښې د کابینې وزیر وي٠
دکابینې هغه محترم غړی د معارف وزیر و ٠ د پښتو ټولنې ریاست رسما د معارف وزارت پورې مربوط و ٠ د پښتو ټولنې ریس پوهاند صدیق الله رښتین و ٠ زه هم د همدې ټولنې علمي غړی وم٠
یوه ورز رئیس صاحب مور ټولو غړو ته د استعلام په ذریعه خبر راکړ چه سبا په لسو بجو وزیر صاحب پښتو ټولنې
ته تشریف راوړي او تاسو سره ملاقات لري٠ نو تاسې به په همدغه مهال د ریاست په دفتر کښې حاضر اوسئ !
حاضر شوو ، وزیرصاحب راغی ٠٠٠ کښیناست٠ دعلم او معارف وطن او ملت ، پښتو او پښتنو په ارتباط یې څو جذباتي خبرې وکړې ، د کار ټکی پکښې هیڅ نه و٠ مګر مور یې ټول تر اغېز لاندې راغلو ، بیا یې وویل: دا پښتو ټولنه ده٠ مور او تاسې رسما مکلف یو چه دلته دې ټولنې د مرام او مقرراتو سره سم ، پښتو ملي ژبې ته علمي خدمت وکړو نو لطفا تاسې هر یو خپل نظریات ووایئ ٠٠٠٠
تقریبا مور ټولو خبرې وکړې٠ بیکاره او دکار خبرې٠

ډیرو به د پښتو او پښتنو په باره کښې احساسات څرګندول ، ځینو به پدې برخه کښې د وزیر صاحب د شخصیت په ستاینه کښې مبالغه کوله. یو نیم د پښتو ټولنې ځینې معمولي ضرورتونو ته د وزیر صاحب توجه اړول ۰ د اسې کسان هم وو چه د افغا نستان د نورو ژبو د ویونکو د ځینو عناصرو او اشخاصو یا د ځینو بهرنیو هیوادونو له لاسه د پښتو د مخنیوئ په برخه

سریزه

محترمو لوستونکو !

لکه څنگه چې ښولو ته ځرگنده ده چې زموږ په گران هېواد افغانستان کې د کلونو کلونو راهیسې تپل شوي جگړه روانه ده چې دې جگړې زموږ د ېر
شمېر هېوادوال د فقر ، بد بختي ، مرگ ، ژوبله او مایوسۍ سره مخامخ کړي دي، او همدا رنگه زموږ ډېر هېوادوال یې شهیدان ، معیوب او په هیواد کې د
ارام او انساني ژوند کولو څخه محروم او په پردیو ملکو کې یې د پردیسۍ ژوند تېرولو ته اړ یستلي دي٠
د دې تر څنگ پدغه تپل شوي جگړه کې د هر څه نه د مخه زموږ کلتور او ادب ته هم په لوړه کچه ضرر او تاوان رسیدلی دی او دوطن د ښمنانو همیش زموږ
کلتور او تاریخی ارزښتونو ته نه تنها په سپکه کتلي بلکې هغه یې توهین او غوښتلي یې دي چې خپل فرهنگ او رواجونه او خپلې ارادې زموږ په خلکو پلي
او عملي کړي ٠
وطن او د وطن په غیږ کې د خپلو دودونو او رواجونو ، کلو
او باندو په مینځ کې اوسیدل دا هغه ستر نعمت دی کوم چې لوي خدای یې په خپلو بند گانو پیرزو کوي ، خو ددې پیرزوینې په قدر او اهمیت هغه څوک
ښه پوهیږي کوم چې د وطن او دخپل ټاټوبي څخه لرې په دوامداره توگه په نورو هیوادو نو کې د مهاجرت شپې او ورځې تېروي٠
ساعته د پلي گرځېدو سپارښتنه کړې ده٠او دې سره دا عزیزان ، دا کتابونه او دا تقریظونه ، په دې وضعه ٠٠٠٠
مازیگر وه٠ پاڅیدم٠ په چکر شوم٠ زموږ د کور مخې ته سرک نوی قیر شوی دی٠ مازیگر په همدې ځم راځم٠
روان یم٠ یو څه وړاندې ، په کوڅه کښې څو تنه ماشومان وو ٠ لوبې یې کولې٠ یو څه باد هم چلېده ، دکوڅې دوړې یې هم بادولې٠ چه ورنږدې شوم ،
وپوهیدم چه ماشومان په گډه ، د یو کوره س په شان ، په خپل
ماشومانه غږ ، دا سندره وایي :

یاره ستا په اننگو کې ٠٠٠٠

پوه شوم چه دا سندره اوس نه یوازې د مشرانو استادانو هنرمندانو د خولې سندره ده ، بلکه د ځوانانو او ماشومانو دخولې سندره هم گرځېدلې ده٠
خو یره کشکې په ودونو کښې ، هغه د توپونو دگړزهار په ځای همدغسې ماشومان همدغسې سندرې وو ایي ٠٠٠٠
په چکر چکر کښی ، زما په ذهن کښې ، نژدې د څلویښتو کلونو دمخه

يوه كيسه راتداعي شوه ۰
او داسې :
و ، نه و ، زموږ د هېواد يو وزير و ، له نامه سره يې د (ډاكټر) علمي لقب هم لګېدلى و ۰ ډاكټر وزير په دې مشهور و چه پښتو او پښتنو سره ډېره مينه لري ۰ ډېرو كسانو به ويل چه په ډاكتر صاحب باندې وطن ډېر ګران دى ۰ هغه ډېر وطنپال شخصيت دى ۰
يوازې ښاغلي صفى الله اسد سفير به ويل :
افغانستان پر ډاكټر ۰۰۰۰ ډير ګران دى ۰ مګر ، هغه په ګران وطن كښې هغه وخت شپې تيروى ، چه دى پكښې د كابينې وزير وي ۰۰۰

بيا دې ته مې پام شو چه ددې ښكلي غزل په قافيه كښې لفظي ترادف او همغږي نشته ۰
د سر دواړه مصرعو د قافيو الفاظ (رنګ - او -څرګند)دي او ددوهم بند هغه (خوند) او د نورو بندنو دغه (ملنګ ، رنګ ، پتنګ ، او څنګ) دى ۰
زه خوشحاله شوم چه د اولسي شاعرانو په شعرونو كښې ، د عربي په شان ، دا كار شوى دى او كېږي ، ښه شوچه د چه د حمزه بابا په حواله ، په ديوانى شاعرى كښې هم ، ددې ((ازادئ)) جواز پيدا شو ۰خو افسوس چه د ظالمې زمانې له خوا ، پر موږ خوارانو باندې د ((ازادئ)) د خوړو پېرزوينه كمه ده يا نشته ۰۰۰۰

عبدالرحيم يوه (سي -ډي) يا (ډي - وي -ډي)چالانه كړې وه ۰ ما په هغه كښې دغه سندره د (نازيه اقبال) په اواز كښې اورېدله او كسر ته يې منتظر وم ۰ دى كښې زموږ د انګړ ور وټكيد ۰عبد الرحيم ولاړ ۰ ډير زر بيرته راغى ۰
په دوه اتيا مخونو ، د كمپوز شويو شعرونه همدغه مجموعه يې راكړه او راته يې ويل : (افغانى صاحب) غواړي چه پدې كتاب باندې څه وليكې !
د مجموعې پاڼې مې واړولې ۰ (دمينې رنګ) غزل (ياره ستا په اننګو كې ۰۰۰۰) مي سر تر پايه ولوست او ايله وپوهيدم چه دا ښكلى رنګين شعر ، د همدې مجموعې د ويناوال ښاغلي سميع الدين افغاني دى ۰
څو نور شعرونه مې هم و لوستل ۰ زياتره خوندور وو ۰ ستړى شوم ۰ په چرت كښې ولاړم ۰ هلته د (ويښ زلميانو) په باره كښې كتاب ليكم ۰ دلته زما د (يو دوه ګوتې كاغذ۰۰۰) دكتاب څه د پاسه ديارلس سوه مخونو ، پروف راته پروت دى ۰ زوړ يم او جوړ نه ۰ ډاكتر راته دوينو دغوړ د لېږې كولو لپاره دوا نه ده راكړې او د هر سهار يو ساعت سپورت او د مازيګر دوه
پرديس خيالونه زما د شعرونو يوه بله نوي شعري مجموعه ده كوم چې د مهاجرت په دوران كې مې دخپلو هيلو او ارمانونو لړۍ د شعر په ژبه اظهار او د قلم او هېوادوالو سره شريكه او په هغه كې مې د خپل د درديدلي زړه اوآز منعكس كړى دى ۰
درنو لوستونكو !
په دغه شعرى ټولګه د وطن نامتو علمى شخصيت سر محقق ښاغلى عبد الله بختانى خدمتګار هم پيرزوينه كړى او يوه ښكلى علمى ليكنه يى پرى

کړی چه د هغوی لیکنه پدی مجموعه کی بی له تصرفه کټمټ نشر ته سپارو او د بختانی صیب څخه مننه کوم چه د ډیرو مصروفیتونو تر څنګ د کتاب په اړه خپل نظر څرګند کړی دی ، ښاغلی بختانی صیب ته د اوږد ژوند او د ښه صحت هیله دلوی خدای د دربار نه لرم ۰
همدارنګه د ځوان او وتلی لیکوال او شاعر ښاغلی اجمل اټک یوسفزی څخه مننه کوم چه زه یی مخامخ نه یم لیدلی او زما د شعرونو او لیکنو سره د رسنیو له لاری اشنا اویوه ښکلی ادبی سریزه یی پدغی شعری ټولګه لیکلی ده ۰
په پای کې لازمه ګڼم د هغه دوستانو څخه چې د دغی مجموعې په راټولولو ، تنظیم او چاپ کې یې له ما سره مرسته کړې مننه او یادونه وکړم ۰
د لوستونکو د نیکو او اصلاحي نظریاتو او مشورو په هیله ۰
په ډیره مینه
سمیع الدین افغانی

سریزه

نالیدلی سمیع الدین افغاني !

دا دستور دی چې له درده زګیروی خیږي
ګڼې څه و د رحمان د شاعرۍ

په رښتیا چې شعر او شاعري د هر چا کار ندی ، شعر د مینې ، درد ، عاطفې او د یوه سپیڅلي احساس زېږنده ده. په یوې ټولنې کې تر ټولو ډېر حساس او
سترګور خلک شاعران او لیکوالان ګڼل کیدای شي.
کله کله یو تن د حقیقي عشق او یا دمجازی عشق پر لمبو وریت شي او تر خولې یې اه او فریاد راووځي، خو ځینې وخت دا سې هم پیښیږي چې یو انسان
پخپله ټولنه کې نا انډولي او بې عدالتي ویني او په پایله کې یې د همدغې نا انډولۍ پر لغړن اور زړه او دماغ سوځي ،چې هر ګوره همدا سوز او سوی بیا
ورو ،ورو د الفاظو جامې اغوندي او په همدې ډول بیا له زړه نه زړونو ته لارې جوړوي.
ځینې وخت په نړۍ واله کچه یو شاعر ، عالم او لیکوال دا سې یوه دردمنه او یا خوږلنه وینا وکړي چې په هغې کې به د ډېرو نړۍ والو درد او غم نغښتی وي.
دا چې انسان یو ټولنیز مخلوق دی، نو پر همدې بنسټ دا وینا بیا د نړۍ پر مخ پرتو نورو هیوادونو او ولسونو ته ځان ور رسوي ، که څه هم د بل هیواد او ولس
خلک به د شاعر په مورنۍ ژبه د سره هیڅ نه پوهیږي ،خو دا چې په
ټولیز ډول کله کله د انسانانو دردونه یو شان وي ، نو د همدې وروستۍ

زما د پاکې مینې
حقیقت پکښې څرګند دی......

او درزی درزی ، درزی درزی....
نه پوهېږم چه ددې سندرې بخت او طالع وې ، که د نورو ټولو او سنیو په خلاف ددې سندر مارو مهارت ، چه د شعر د الفاظو د ادا کولو پر مهال یې
د موسقۍ د الاتو غږونه ډېر ټیټ کړي وه.

نو ملګري مې وويل :
ها ۰۰۰۰ د حمزه بابا غزل وايي۰
هملته لږ څه ودرېدو او سندره مو تر پايه واورېدله او يو څه خوند مو ترې واخيست۰ يو څه پدې چه د سر تاوولو په وخت بيا د موسقۍ په اوازنو د توپونو غرمبهار جوړېده او زمو غوږونه يې کڼول ۰۰۰۰
زه خو ودونو ته ډير نه ځم ۰ که د سيا لۍ شريکۍ د ډيرې بې اندازې مجبورېږ نه ولاړ هم شم ، بيا ورته ډېر نشم کښېناستلی۰ خو دا سندره مې بيا بيا څو ځله د راډيو ګانو او تلويزيونونو له لارې ډيرو مختلفو سندر غاړو په اوازونو کښې ، د موسقۍ د سم ، مناسب او معتدل غږ په ملګرتيا اورېدلې او خوند مې ترې اخيستی دی۰ خو !
خو څرنګه چه يو د سندرې په کسر کښې د هغه د شاعر نوم يا تخلص نه اورېدل کېده او په هوټل کښې د خپل ملګري نه مې اورېدلي وو:د حمزه بابا غزل۰۰۰۰
نو د غزل په مکرر اورېدو به مې دا تلوسه زياتېدله چه که د غزل په کسر کښې د شاعر نوم يا تخلص واورم ۰
حمزه بابا خو د خپلو غزلو په کسرونو کښې خپل نوم ځای کړی دی او دلته ۰۰۰۰ ؟
سندرې خو سندې وي ((خو)) ، بيا هم ((خو)) ، خو دنوي عصر د تخنيک زور هم ور سره شيي ،او د موسقۍ خوږ اواز ، دراکټونو ، توپونو او بمونو د اواز غوندې اوچت شي او غوږونه کڼوي ۰
په يو واده کښې ، همدا چه ډوډۍ مو ونغړله ، نو يو ملګري راته په څه طنزي لهجه ويل:
استاده !که دې خوښه وي نو رسخت به واخلو ، وبه تښتو ۰
ما وويل: ولې ؟ هغه وويل: ته پوهېږې چه افلاتون ويلي دي: ((موسقي د روح غذ ا ده))۰ مګر ۰۰۰۰۰
زه پوه شوم۰ پاڅېدو ۰ په ولاړه حالت کښې ما وويل: بښکه !که الله پاک پدې يو ويشتمه پېړۍ کښې ، افلاتون را ژوندی او يا زموږ په ټولنه کښې نوی افلاتون را پيدا کړي ، نو پر موږ به د هغه ذات د بې شمېرو احسانونو تر څنګ د هغه دا احسان هم وشي ۰ چه ، دې زمانې ځينو کسانو ډېر تبليغ کړی دی چه ((فلسفې افلاس کړی دی)) ددې پرو پاګنډې په اثر د نړۍ د فيلسوفانو بازار سوړ شوی ،او د هغو پر ګدۍ سفسطه بازان ناست دي۰ اودې سره نړۍ د فلسفې په افلاس اخته شوې ده۰ نو نوی افلاتون به خپله هغه
زړه خبره ((موسقي د روح غذا ده)) بيرته واخلي اودا سې حکم به صادر کړي :
((موسقي د روح عذاب دی !))۰
او دې سره به د فلسفې او فيلسوفانو ارزښت هم يو په دوه شي۰

چه روان شوو د موسقئ لمړنی درز پورته شو ۰۰۰ څو چه د تالار دروازې ته
ورسیدو ، د سند رغاړې غږ مو تر غوږ شو :

یاره ستا په اننګو کې
چه د چا د وینې رنګ دی ؟

اړیکې له کبله بیا هر دردمن پرې خپل درد کټ مټ د شاعر په شان تسکین او ټکوره وي۰
ښاغلی سمیع الدین افغاني که څه هم له خپل هیواده لرې پروت یو افغان مسافر دی ، خو د خپل یتیم وراره ،سرتورې ورېرې بې مور او پلاره ، کور او ور بې ژړوي او کړوي ، چې دادی نن یې درد د الفاظو او کلمو په بڼه ستاسې په وړاندې دی۰
ما لا تر دې دمه ښاغلی سمیع الدین افغاني مخ په مخ ندی لیدلی ، بس یوازې او یوازې د ښاغلي افغاني د خوږ من زړه ، احساس ، کرېکې او سرېکې وې چې زه یې هم د یوه دردېدلي افغان په توګه د ښاغلي افغاني صیب د شخصیت سره اشنا کړم ، هو همدا پیوند و ، څکه چې د هغه(شاعر) د هیواد سرتورې زموږ پت دی او دوطن یتیم بچی زموږ تن دی ، د هغې بې وروره کور زما کور هم دی او زما بې اور کور د هغه هم دی، یعنې خوښې او غمونه ټول مو سره ګډ دي۰
زه د فن او هنر له مخې د ښاغلي سمیع الدین افغاني ، پاک او سپیڅلی احساس نه ټکنی کوم ، ټوله (پردیس خیالونه) ټولګه مو په لاس کې ده ،تاسې او خپل انصاف او قضاوت ۰

مګر دا چې شعر مینې ، احساس ، پیغام او انساني عاطفې ته وایي نو ما دا ټول د ښاغلي افغاني صیب په پیبلو ویناوو کې لیدلي او لوستلي دي ۰

پر ژوند او قلم یې برکت
اجمل اټک یوسفزی
ناروې ، اوسلو

هره شپه اورم ننګرهار ښه دی

مګر اوس ، دماشيني نړئ د ترقئ او پر مختګ په زمانه ، په يويشتمه سدئ ، يا د کمپيوټر په دوران کښې پر موړ بدبختانو ، ددې ورستيو دېرشو کلونو ، د پرله پسې تپل شويو خونړيو جګړو ، د نړئ د راز راز پرمختلليو وسلو د ازموينو د درز او دروز پدې دوزخي زمکه او اسمان کښې ، چه د چا خپلوان ، عزيز ، دوست او اشنا د ښادئ کارت راشي ، نو کارت وګورو چه د شپې له خوا ، د يو مجلل عصري هوټل تالار ته يې بللي يو ۰ مننه مبارک دې شي ۰

هلته د خوړو غم نه وي ۰ د هر مېز ګرد چارپېره دولس تنو غذا سرويس کيږي ، شوله خو درک نه لري ، څلور پنځه ډوله پولاوونه ، څلور پنځه ډوله غوښې ،سالندونه ، فيرنې ګانې ، مېوې او کوکا کولا ګانې ۰۰۰۰
دولس واړه زمريانو مېلمنو حمله په غوښو وي ۰ وريجې هسې پاته شي ۰ هسې هم زياتره پخ کړي شيان باسي او د پرون ، بل پرون او لرغونيو پرونونو د ودونو پاته شوني وي ۰
خدای دې د هغو مل شي چه وخت ناوخته يې د وينې د فشار يا د معدې د تېزاب درجه جګيږي۰۰۰۰

راغلو د سندرو اورېدلو ته :
هلته سندرغاړو ته ډير ښه ستېځجوړ شوی وي ۰ په اوتو کړيو دريشيو او ښکلو نيکټايي ګانو ، منظم او مهذب ،((هنر مندان))او کله نا کله ((بې هنران)) ناست وي او سندرې غږوي ۰ هغه سندرې چه موږ په ځوانئ کښې اوريدلي هغه نه ، هغه استادان خو زياتره وفات شوي دي ۰ خدا دی يي وبخښي !د هغو د زامنو لمسيانو څخه ، خدای دی يي لري ، سندرې اورو

يا ره ستا په اننګو کی ۰۰۰

څنګه چه ښايست يې د اشنا په اننګو کې دی
هسې يې غزل د نا اشنا انځوره ووځی

د ځوانئ په وخت به چه د چا د ښادئ مراسمو ته تللو ، نو په تلو تلو کې به دا پوښتنه طرحه کېدله چه څه به يې پاخه کړي وي ؟ د غوښې سره شوله که بې

غوښې ؟ خوندور ځواب «پولاو » و ۰
مګر زما او زماغوندې ، د ځینو سرګشته و ، نه دا پوښتنې خوښېدلې او نه دا
ځوابونه۰ زموږ په زړه پورې پوښتنه داوه :

سندرغاړېې څوک دی ؟
اسلم ، بادام ،فیض ګل ،حافظ ، مشکي ،بسم الله، ایوب ، رحمتګل ، ګلرنګ۰۰۰یا ؟
واده ته به ورسېدو څه شی به چه تیار و هغه به د یار و ،هغه به مو په خوند خوند وخوړل۰۰۰۰
بیا به له ماسخوتنه تر سپېده داغه پورې د سندرو په اورېدو نه مړېدو ۰ د بهارې ، بیرمې ، بیاګ ، کستوري ،کلیان ، اسا اوجوګ په راګونو کښې به مو سندرې:
مقام ، غزل ، لنډی ، چهار بیتې ، لوبې ،بګتئ۰۰۰ او په هغو کښې به مو په ډېره مینه ، دمینې سندرې اورېدلې۰ دیار دمینې ، د وطن د مینې او د خدای دمینې د
استاد الفت دمینې دیو غزل دا بیت الغزل ، د هماغه زمانو یادګار دی۰

چه په حجرو کې یې د عشق سندری

محبت

همېشه به مې ورب ته دادعا کړه
محبت دنازولي جانان راکړه

دا نړۍ راته فاني دنيا حساب ده
هوښيارانو توبه جوړه دعقبا کړه

د جنت او د دوزخ پروا به څه کړم
چې پروا مې شپه او ورځ ستا د رضا کړه

چې تمام عمر په فکر د دولت وي
هغه خلکو د خپل ځان سره جفا کړه

د مادي دنيا متاع ده د څو ورځو
غافل مه شه او خروي تخفه پيدا کړه

چې د زړونو په رضا رب خوشحالېږي
راشه ! دا سې انساني احساس اشنا کړه

دغه څوک دی چې په خپلو کې یې وران کړو
ولســـــونو او اعتبار باندې څـــــه وشـول

دا څـــــــــه وشول څـــه به کېږي نه پوهېږو
زموږ د خلکــــــو په وقـار باندې څه وشول

د ظالمـــــــــو او بې رحمـــــــو زور چلېږي
افغاني ! زموږ روزګار باندې څـــــه وشول

۲۰۰۹ - ۵ - ۱۹

مهاجرت

څه وشول ؟

زمــوږ کلي او ګلزار بانــدې څـــه وشــول
په سپرلیـــو ، نوبهـــــار باندې څه وشول

بوراګان د بـاغ پــه لـــــوري نــه رادرومي
په دې خوارغریب ملیـــار باندې څه وشول

چې د خیــاله یې رخســـار په اوربل پټ وه
په هغه ښــکلي نـــګار باندې څـــه وشول

نه ادم شتـــه ، نه رباب ، نه هغـــه مینـــه
د فرهـــــاد د زړه قرار بانـــدې څـــه وشول

دلته هر څـــــه دي وران شوي ویجـــاړیږي
زموږ کلي زموږ ښـــــار باندې څـــه وشول

د اخــلاص او صـــداقت لـــوړه رتبـــه ده
د کعـــبې د پیروانـــو ځان همـــرا کـــړه

په کــوم ملک کې چې رښتني ورورګلـوي وي
د هغــو خلکو روزګـــــار ربـــه صـفا کـــړه

چــــې د بخل او کیـــنې نـــه ، نه مړیـــږي
هغـــه قوم ،هـغـــه ولس ربـــه پـــنا کـــــړه

غــرض دا چې صدا قـــت لـــــوی عـــبادت دی
قـــوم په صدق کې حاصل د خدای رضا کـــړه

۲۰۰۸- ۱۰-۲۱

افغان یم

زه څوک د کوم ملیت د کوم زبان یمه زه؟
بس دومره درته وایم چې افغان یمه زه

پښتون دی که تاجک که هزاره ددی وطن
ازبک نورستانی که پشه ای دی یا ترکمن
ددې خاورې بچیان دي سره یو مو دی مدفن
تاریخ یم جوړونکی د زمان یمه زه
بس دومره درته وایم چې افغان یمه زه

دښمن مو په نفاق کې یو تر بله بیلوي
په رنګ رنګ د سیسو مو په خپل مینځ کې جنګوي
په حیله او نیرنګ مو په قومو جلا کوي
اوس پوه زه د دشمن په بد ګمان یمه زه
بس دومر درته وایم چې افغان یمه زه

د ژوندون پا ی کی مایوسی څه پکار
د ښه عمل ښی خاطری تیری شوی

دلته دا څوک دی چه مغروره ښکاری
فانی دنیا شیبی ، شیبی تیری شوی

افغانی رب ته د سجدو موقه ده
ګنی موقی مو د توبی تیری شوی

۲۰۰۹ - ۵ - ۸
مهاجرت

د غم خپې

په موږ د مرګ بدې خپې تیرې شوې
څه عجیبه شانتې صحنې تیرې شوې

د زړه کوګل ته مو لاس ویوړو رقیب
د درد او غم بدې شیبې تیرې شوې

د ژوند مفهوم زموږ بې رنګه شولو
د نابودیو ولولې تیرې شوې

ها امیدونه ارزوګانې د ژوند
ټولې نیمګړې قافلې تیرې شوې

راځې چه وا خلو عبرتونه تر ژوند
دا سې په موږه چه تیارې تیرې شوې

پدغه ژوندکې اعتبار کله شته
د خود غرضو ناکردې تیرې شوې

د توري په میدان کې هر دښمن پدې پوهیږي
افغان باندې په زور او زیاتي کله کلي کیږي
خصلت مود میړانی دی په دې هر څوک پوهیږي
په عزم، اراده کې با ایمان یمه زه
بس دومره درته وایم چې افغان یمه زه

راځئ ای خوږو ورونو چې وطن سره اباد کړو
په پوهه هوښیاری باندې دا خپل غلیم برباد کړو
پیشرفت او ترقۍ ته افغانی عزم بنیاد کړو
بیا سولې ورورولي ته ارمغان یمه زه
بس دومره درته وایم چې افغان یمه زه

کال ۲۰۰۵ مهاجرت

دا افغانستان دی

ای وطنه گران وطن
ښکلی گلستان وطن
دا مو د خاپوړو کور
دی جنت نشان وطن

ښه باغ او باغچې لري
رنګ په رنګ میوې لري
ښار د قندهار زموږ
پېغلې پښتنې لري

ښکلي ننګرهار ته ځم
گل د نارنج ښار ته ځم
بیا به د سپرلي موسم
د ښکلو دیدار ته ځم

دلته زړونه په لمبو دي
امیدونه په سلګو دي

په صحیح لار مو روان کړه
ته مو سیالددې جهان کړه

افغاني احساس اشنا کړه
دی تیارو نه جوړ سبا کړه

۲۰۰۹- ۵ - ۹

جرمنی

دی کاروان کې انسانان دي
څوک سپین‌ږیري دي ځوانان دي

هم تور سرې ، ماشومان دي
څوک تنکي تنکي ځوانان دي

دوي کې مینه ده وروري ده
پاک احساس ، مسلماني ده

دوي په تمه د ژوندون دي
په امید د سباوون دي

ای د دې کاروان څاروانه
لږ خبر شه د کاروانه

ستا غفلت کې نابودي ده
ستا همت کې زندګي ده

لږ دمه شه ای مغروره
ځان فارغ کړه له غروره

غرونو کی زمریان لري
ژنې اتڼ چیان لري
خلکو د پکتیا سیمه
ښه ښایسته ځوانان لري

لوړ نام او نشان زموږ
دا د اسیا بام زموږ
ځومره لوړ شهرت لري
لعل د بدخشان زموږ

دروند په زیارتونو دی
ځای د طاعتونو دی
دا د غزنویانو کور
زړه د تاریخونو دی

لاړ به شو مزار ته بیا
د روضې دیدار ته بیا

سوال به د ایمان وکړو
د الله دربار ته بیا

دا مو دقومو کلی
دا مو د دودو کلی
لوړعالي کلتورلري
دا مو د نیکو کلی

لوړ په تول جهان دی
دا کور د افغان دی
دا مو د پلرو کلی
دا افغانستان دی

کال ٢٠٠٢
مهاجرت

څار وان

دغه څوک دی چې څاروان دی
رهنما مو د کاروان دی

دا مو خپل که اجنبی دی
که مو خپلو کې پردی دی

دوی کې لویه ځان ځاني ده
راته ښکاري بې ایماني ده

دي بې لارې ټول منزلونه
تورې شپې دي ګړنګونه

په بې لارو ، لارو سر دی
د کاروانه بې خبر دی

هر یو ځان ، ځانله غره دی
که څاروان دی که ساده دی

چې په پوهـــــه علمیت مري
د هغـــــوی شتـه دوعـا ګوی

چې په جهـــل کې پیـدا شي
خدای دې نکړي چـــاته لوی

چې په سمـــــــه لاره سر دی
افتخـــــــار په داسې څوی

نورو صلحـه کې ژوند تېر کړ
موږ په جنـګ کې شو را لوی

***

۲۰۰۹ - ۸ - ۲۵

داثه حال دی

دغه خوب دلیدو نه دی
نه خوبونه دلیدو دي
داحالت دلیدو نه دی
نه وختونه دلیدو دي

ثه تیارې دي خپرې شوي
سمه او غر یبې دی نیولی
دی وحشي وحشي شیبو کې
دا فرصت دلیدو نه دی
نه وختونه دلیدو دي

ددی شنه اسمان تر خنګه
دا زخمي زخمي وختونه

۸

دا دهشت دلیدو نه دی
نه وختونه د لیدو دي

پرهارونه مرګ او ژوبله
دبې رحمو قا تلا نو
د ظالمو جابرانو
دا وحشت د لیدو نه دی
نه وختونه د لیدو دي

حالتونه توفاني دي
اوس وختونه توفاني دي
ای د وخت سالار تربوره
ستا خصلت دلیدو نه دی
نه وختونه دلیدو دي

نن دخدای د بنده ګانو
ډېر بې حده سپکه کیږي

مناجات

ربه ستا دربار دی لوی
موږ يو ټول ستا ثنا ګوی

ته عزت چا ته نصيب کړې
څوک ذليل کړې سياه روی

تفاوت لري خالقه
ستا مخلوق په رنګ او خوی

يو هوښيار کوي کاروونه
بل جاهل بې ادب لوی

څوک ظالم خانه خرابه
دی مکاره دروغګوی

ربه تا دي پيدا کړي

څوک عاجز څوک فضول ګوی

تـــکبر چې پــــــــکې نه وي
هــــا عالم د عقلـــــــــه پوی

۷۲

چاچې راستي کړي ده
رب ته منلي دي
ته سزاواريې ربه
د عبادت مدام
که مو نصیب شي چېرې
ستا مرحمت مدام
شېطان رټلی ګنو
تا فرمايلي دي
چاچې راستي کړي ده
رب ته منلي دي
لاس په دعا يو ربه
ته مو سبحان يې
ته مو پوره کړې حاجت
ته نګهبان يې
افغاني ! ستا په لار کې

هر څه منلي دي
چاچې راستي کړې ده
رب ته منلي دي
۲۰ - ۵ - ۲۰۰۹

۷۵

دا قيامت دليدو نه دی
نه وختونه دليدو دي

ای ددې زمان انسانه
سره يو شه يو همت شه
يوه چيغه د غيرت شه
نور غفلت دليدو نه دی
نه وختونه دليدو دي

تر دې غلو او ګيدړانو
داوحشي ، سړي خورانو
ترېنه خلاص مظلوم انسان کړه
دا ذلت دليدو نه دی
نه وختونه د ليدو دي

زخمي زړه

شیخه نور کله زه تسبیح شمېرم
زه مې زخمونه د سینې شمېرم
ګیله مې ځکه د خپل ځانه راځي
خپل صداقت دا ناکردې شمېرم
چې په وفا او صداقت مړه شوي
د هغه خلکو هډ ېرې شمېرم
د زړه باغچه مې ټول زخمي زخمي ده
د رغیدو یې ورځې شپې شمېرم
د پیوندي زړګي نه څه غواړې نور
نه ستا وعدې نه مې ګیلې شمېرم

ستا زړه په کوم رنګ چې تسپې اړوي
زه افغانی مې شوګیرې شمېرم

فرانکن کلینینک-باد کیسینګین
۲۰۰۸/ ۸ / ۱۷
جرمني

۱۱

نیک عمل

دنیا د نیک عمل ده
بدان رټلي دي
چاچې راستي کړې ده
رب ته منلي دي
دنیا دنیک عمل ده
بدي په کار نده
دا بد عمل چې پرې ځي
دا سمه لیار نده
پرهیزګاران د دنیا
پاک او سپېځلي دي
چاچې راستي کړې ده

رب ته منلي دي
دا دنيايي کار او ژوند
هسې روان دی نا
چې څوک پرې نه پوهيږي
غافل د ځان دی نا
د خدای رښتنی مخلوق
پرې پوهيدلي دي

۷۴

پرواز دې زړه غـواړي وزر دې نـــه وي
د بـــې انــصاف درزي د ظلـــمه وروسته
کالي دې جـــوړ وي خو تـــر دې نـــه وي
داسې وخـــتونـــه د نيمګـــړو هيلـــو
کلـــه پيښيږي چـــې هنـــر دې نـــه وي
يا کـــه پـــه هر څـــه بانـدي پوه يې مګر
پـــه لاس کې زور نلـــرې زر دې نـــه وي
داسي تنـــدی هـــم پـــه داغلـــو ارزي
چـــې خوښې نلـــري اختـــر دې نـــه وي

یـــو خـــوږ ارمان لرو پـــه زړو کې ربـه
چې نور جنګ نـه وي ستمګر دې نه وي
خاو نـــده بـــیا هـغه وختونـــه غـوا ړو
پښتانــــه یو کړه لـر او بـر دې نـــه وي
۴ - ۵ - ۲۰۰۹

د مینې رنګ

یاره ستا په اننګو کې
چې د چا د وینې رنګ دی
زما د پاکې مینې
حقیقت پکې ثرګند دی

ما ویل سترګې دې خوږې دي
دې ویل توري په رنجو دي
ما ویل مینه دې سور اور دی
دی ویل یار زما ملنګ دی

ما ویل زما سره اشنا شه
دې ویل زمونږ کلي ته راشه
ما ویل مینه رسوا کیږي
دې ویل دا دمینې خوند دی

۱۲

ما ویل ښکلې دې ځواني ده
دې ویل مینه رسوایي ده
ما ویل زه دې لیونی کړم
دې ویل یار مې غنم رنګ دی

ما ویل سپینه خوله دې راکړه
دې ویل مینه کړې بې باکه
ما ویل زړه ته مې نژدې یې
ویل زه شمع یار مې پتنګ دی

ما ويل راشه مازيګر ته
دې ويل دربه شم ګودر ته
ما ويل لاره به دې څارم
ويل منګى مې شين په څنګ دى

۲۵/ ۴ / ۲۰۰۷

۱۳

چې بام څڅيږي او ختګر دې نه وي
دا تنهايي به څه لذت ولري
په کور کې ناست يې او دلبر دې نه وي
د داسې وصله نا اميده يې تل
واده دې کړى وي پسر دې نه وي
چې د اشنا په تمه تمه ناست يې
ورځ دې اوږده شي مازيګر دې نه وي
يا په چرتونو او فکرونو د يار

شپه دې اوږده شي او سحر دې نه وي
د شوګیرو د خپل جانان نه وروسته
خوب دي راغلی وي بستر دې نه وي
چي غریبي او بې وسي وي مدام
په تبه پروت یې او ډاکتر دې نه وي
چي کله کله خوشحالي پېښه شي

۷۲

نیمګړي هیلي

د ژوند بهیر په بیړه بیړه درومي
تل خوشحالي او د زړه سر دې نه وي
کله نا کله داسي ډېر پیښیږي
چي څه کرې حاصل او بر دې نه وي
داسي هستي زمینداري به څه کړې
ځمکه دي ډېره وي بزګر دې نه وي
او یا د ځمکې د حاصل نه ورسته

فصل دې پوخ وي او لوګــر دې نــه وي
هــغه تنـــــها د بــېوسۍ موقـــعه کې
مشکل دې ډېر وي کمک ګــر دې نه وي
ملیاره !تــه بــه هم خوشحالــه نــه وې
چې نیـــالګي کېنـــوې ثــمر دې نه وي
ژمی بـه څنګه پــه خوښۍ کي تېر شي؟

۷۱

پاکې هیلې

هغه څه چې مو په زړه کې هوسیږي
زموږ هیلې دي منزل ته به رسیږي

دغه هیلې ډېرې پاکې او سوچه دي
چې ملګري مو د ژوند او همېشه دي

دا ژوندون د امیدونو لوی جهان دی

ځکه تل په هلو ځلو کې انسان دی

د مادي دنيا متاع پسې به ګرزي
خو اخر به د نيستۍ په طرف پرځي

چا چې بل انسان ته کړی دی خدمت
دا حتمي ده چې بيا مومي به عزت

ځينې شته دا سې کسان چې مضري کا
چې تاوان درته رسيږي خوشحالي کا

دوی په خپله په تلاش کې د ضرر دي
خدای وهلي ځان نه کله با خبر دي

 څوک چې چاته کوهی کني هغه خپله
په کوهي کې به يې ځای وي تل ترتله

چې د بخل او کينې نه نه مړېږي
نارو ا دی هېڅ منزل ته نه رسېږي

تکبر دا دجاهلو خلکو کار دی
په دنيا باندی تل کله اعتبار دی

پاکې هيلې د انسان او انسانيت
درته ښايي که دې ګران وي خپل عزت

۱۵

ربه ته د مور او پلار يې نګاهبان شې
دا مو هيله دا اميد دا مو توبه ده

تا پيدا کړو ته مو وژنې ته مالک يې
ستا ورحم او کرم ته مو سجده ده

ربه ته يې جنتونه ور نصيب کړي
ښايسته پېغله غزال جان مو ستا ميلمه ده

۲۰۰۹ - ۳ - ۱۷
اشفنبورګ والډفريتوف
جرمني

۷۰

ځوانيمرګه غزال

زموږ کلي زموږ ښار کې انګازه ده
جګه شوي د ښکلا نن جنازه ده

خپوي نن نامراده ارمانونه
د غزال د پېغلتوب ورستۍ شپه ده

نن د زړونو د داغونو حساب نشته
د غربت د ماتمونو يو بيلګه ده

پدې ویر کې هر یو ډېر دی ژړېدلی
که سپین ګیری یا که ځوان که بېګانه ده

ارمانونه د ځوانۍ نن خاورې کیږي
عجیبه شانې د غم بده شېبه ده

پدې خلکو نن د غم د پاسه غم دی
پدې کلي نن راتاو د غم څپه ده

د اخلاص لاره مدام د پیروزي ده
د انصاف تله قانون د پادشاهي ده

افغانی دا صداقت لوی عبادت دی

خپل قسمت چې در رسېږي قناعت دی

جنوري ۲۰۰۴ جرمني

مهاجر

زړه کې چې مغروره او کاکه یمه
داسې معلومېږي چې ساده یمه

دلته په پردي وطن کې ژوند کوم
هر څه خپلوم ځان بيګانه يمه

ګوري راته تل دوی په پردي نظر
هسې زه د څو ورځو ميلمه يمه

۲۰۰۷ / ۴ / ۲۴
مهاجرت

د نازو او د ملالې خدمتګار دی
خپل ولس ورته د هر څه نه دی ګران

همېشه دی د ټاټوبي په خدمت کې
تل نازېږي په تاریخ د لوی افغان

ربه ته د با احساسو ساتندوی شې
لوړ همت راته ښکاره شو افغان ځوان

....

۲۰۰۹- ۳- ۲۲

۲۸

افغان ځوان

چې خپل ژبې ته خدمت کړي په ښه شان
په مرچل کې ورته پروت دی د افغان

نازولي یې مدام خپل مشران دي
احترام ورته کوي په هر زمان

ښکلی ځوان دی هم ساتونکی د سنګر دی
د دښمن سره یې لاس دی په ګریبان

لوړ احساس یې د وطن څېره کې ښکاري
ربه ته د دغه ځوان شې نګهبان

ډېر غمخواره استعداد راته ښکاره شو
په خدمت د خپل وطن کې افغان ځوان

د میرویس او احمد شا بابا خدمت ته
شپه او ورځ یې یوه کړې په ایمان

۲۷

د زړه باغچه

دزړه باغچه کې درته ګل کرمه
رامبیل، چمبیل، نرګس، سنبل کرمه
دا به وعده راسره کړې جانانه

دګلو سيل له به راځې جانانه

د زړه باغچه کې درته خيال جوړوم
د ښاپيريو پکې ټال جوړوم
زما دا هيله به منې جانانه
دګلو سيل له به راځې جانانه

زما د پاکې مينې ښکلي بڼ کې
ستا د ښايسته حسن منلي بڼ کې
د وفا لاس به راکوې جانانه
د ګلو سيل له به راځې جانانه

زما د مينې او سرو ګلو باغچه
د رنګينو ،باغ او بلبلو باغچه

بیا له خزانه به ساتې جانانه
د ګلو سیل له به راځې جانانه

ترڅو پدې باغچې خزان ګډ شي
په سرو ګلونو مې تالان ګډ شي
پاس په لیمو به قدم ږدې جانانه
د ګلو سیل له به راځې جانانه

/۲۰۰۷ / ۴ / ۱۰

جرمني

ما ویل چې زه به خپل منزل ته رسم
په حقیقت کې په بل رنګ راغلم

د پاکو هیلو ، ارمانونو ښار نه
زه افغانی تری ګیله من راغلم

۲۰۰۸ - ۳ - ۱۸
مهاجرت

ګیله مند

زه د حالاتو نه په تنګ راغلم
دخپل تدبیر سره په جنګ راغلم

ماویل چې ښکل به کړم روښانه لاره
په سرنوشت کې د پتنګ راغلم

زه د خپل ملک د پادشاهي په هیله
خو په حساب کې د ملنګ راغلم

ما سره ښکلي ارمانونه زړه کې
خو نامراده ترې په څنګ راغلم

هغه حساب چې مې د ژوند درلوده
زه په مسیر کې د نیرنګ راغلم

۶۵

لیونۍ

د فکر تال کې زنګیده لیونۍ
بیا په زړګي مې وریده لیونۍ

ما مې د زړه ورته داغونه شمېرل
دا بې پروا وه خندیده لیونۍ

هسې بې درده بې احساسه نه وه
ځما په مینه پوهیده لیونۍ

ما چې اظهار ورته د مینې کوه
لکه د ګل به غوړیده لیونۍ

افغانی څومره ښې شیبې تېرې شوې
چې په مالت کی اوسیده لیونۍ

۱۰/۱/۲۰۰۸
مهاجرت

۲۰

غزل

زړه چه شی بی شوره بس دعشق د کوره ووځی
یار ورته اغیار شی د زړګی د زوره ووځی

دغه د بې مينو ښار دزړو تسل په څه کيږي
دا چې د يار مينه يې د فرض د پوره ووځي

عزم فولادي د يار په مينه کې په کار دی
ژوند دنا اميده ارمانو د توره ووځي

ژوند دپاکې مينې ، پاکو هيلو سره ښه ايسي
ګوره چې مين د ناکردو داوره ووځي

هسې چې ښايست يې د اشنا په اننګو کې دی
هسې يې غزل دنا اشنا انځوره ووځي

۱۲/۱۲/ ۲۰۰۲

شوګيرې

زه لـه حيـــــا يار ته کتلی نشم

دزړګي راز ورتــــــه ويلی نشم

ديار منت مې په ليمــــو قبول دی
د بل احســـان په ځــان منلی نشم

داستـــا په مينه محبت کې اشنـا
دهــجر ژونـــد نور تير ولی نشم

ستا به پدې کله يقين پيـــدا شي
زړګی لـــه تا نـــه صبرولی نشم

ها ستــــا د کلي دکوڅو يادونه
خــــوږې شيبې يې هيرولی نشم

افغـانی ژوند په شوګيرو تېرېږي
باران د او ښــــکو درولی نشم

----
۷ - ۷ - ۲۰۰۹

دا تنګ نظره دتعصب لېونيان
د افغانانو کار او زيار ورانوي

اغيار به دا ارمان تر ګوره ويسي
چې د افغان ولس ګلزار ورانوي

افغاني ! زمونږ د پرګنو يووالی
د دښمن ځاله او اعتبار ورانوي

۲۰۰۹ / ۳ / ۸
مهاجرت

کلیواله

د کلي مینځ کې د پنجو په څوکو تلله جلۍ
لکه کوتره مې د ورایه ولیدله جلۍ

د سیخکو کتار یې جوړ وه د اوربله ځینې
په یو نظر یې زړګی ویوړه د ګوګله ځینې
په سرومنګلو یې لاس تېرکړه د کاکله ځینې
په هر قدم کې لکه لښته ماتیدله جلۍ
لکه کوتره مې د ورایه ولیدله جلۍ

خپلو همزولو سره وتې په چکروه نه
ښکلې موسم د پسرلي او مازیګروه نه
د پلو لاندې پټ کاته یې په هنروه نه

د نجنو مینځ کې لکه شمعه بلیدله جلۍ
لکه کوتره مې د ورایه ولیدله جلۍ

یو یې په غاړه سور کمیس ګل بخمل وه نه
په جګه پوزه د چارګل یې جلوبل وه نه
دا خوشبویي چې په ګډا ترې د سنبل وه نه

په افغاني لباس کې ښکلې ښکارېدله جلۍ
لکه کوتره مې د ورایه ولیدله جلۍ

۷/۱/۲۰۰۸

درحمان با با مزار

چې د رحمان بابا مزار ورانوي
د پښتنو ستر افتخار ورانوي

دا د فرهنګ او د ادب دښمنان
زموږ کلتور زموږ یادګار ورانوي

زموږ تاریخ ته دوی په سپکه ګوري
دوی زموږ څلی او منار ورانوي

نن د صوفي عبدالرحمان په پلمه
د تصوف پلونه او لار ورانوي

دوی د انصاف او انسانیت نه لرې
نن که رحمان سبا انصار ورانوي

هر قدم کې مايوسي ده
په سلګو کې چې اوسيږو

که لوی خدای مو مهربان شي
د رحمت په موږ باران شي
په وطن کې مو ورورې شي
خپل باندو کې چې اوسيږو

ربه موږ هم بنده ګان يو
د يو خوږ ژوند په ارمان يو
(کاش چې ورکه محتاجي شي)
اميدو کې چې اوسيږو

افغانی وطن سور اور شو
تر اسمانه لوګی خپور شو
اه فرياد او بيوزلي ده
تورتمو کې چې اوسيږو

۲۰۰۹ - ۲ - ۷

د جانان غم

د شوګیرو به درته څه ووایم
د ژړیدو به درته څه ووایم
چې دې په مینه کې لوګی لوګی شوم
د نا کردو به درته څه ووایم
د جانان غمه لیونی دې کړمه
د رغیدو به درته څه ووایم
چې په وعده باندی وفا ونکړې
د تش وعدو به درته څه ووایم
ګیلې مې ډېرې په زړګی تېرېږی
ددې ګیلو به درته څه ووایم
زړه مې د مینې په دریاب لاهو شو
د ډوبیدو به درته څه ووایم
د افغاني زړګي کې مینه د یار
د هیریدو به درته څه ووایم

۲۰۰۸/ ۲/ ۲۰

مهاجرت

د نجونو میره

((ما يې تماشه وکړه تله چې د چمن په لور))
((دا د نجونو میره وه لاړه د ګلشن په لور))
ما يې تماشه وکړه تله په مکیزونو کې
مسته چې په ناز قدم اخلي په ګلونو کې
حسن ده ښکلا ده دانه ځي دفیشن په لور
دا د نجونو میره وه لاړه د ګلشن په لور
ما یی تماشه وکړه ده د سردرو ښکلا
سروه د بوستان په قد ده دشنو باغچو ښکلا
حوره په ښایست ده دا ځی با غ حرم په لور
دا د نجونو میره وه لاړه د ګلشن په لور
دا دنجونو میره ده ښه ښکاري همزولو کې
دا سې وطني ښکلا نشته پدې نورو کې
ځار تر افغانی حسن ځمه دوطن په لور
دا د نجونو میره وه لاړه دګلشن په لور

دیسمبر ۲۰۰۴
مهاجرت

کاش د خپل وطن بزګر وای
یا چوپان وای یا کارګر وای
اوس په بل ملک کی نوکر یو
په چرتو کې چې او سیږو

دلته بل رنګ ترانې دي
دلته بل شان ته نغمې دي
موږ د خپل مالت نه لرې
په میرو کې چې او سیږو

نه ځما د کلي خوند شته
نه هغه د یاري رنګ شته
دلته مینه بازاري ده
په دوکو کې چې او سیږو

دلته زړونه دي مات شوي
د مستي نه دي ولیدلي

جلا وطن

دا موږ څومره بد نصیب یو
په پردو کې چې ا وسیږو
نه د ځان نه د قریب یو
غیر ملکو کې چې اوسیږو

وطن مور وطن عزت دی
وطن مینه محبت دی
اوس مو وران دی د زړه کلی
شوګیرو کې چې اوسیږو

دغه څوک دی چې یې وران کړو
نن احتیاج یې د جهان کړو
دا دکوم ظالم له ظلمه
تورو شپو کې چې اوسیږو

بنګړي

مانه د زرګر د دوکان
خيالي پاولي غواړي
سپينې ليچې تشې ګرزي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي
زرګره نقد ې روپۍ واخله
مانه اشنا د لاس بنګړې په خپل مرضي غواړي
سپينې ليچې تشې ګرزي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي
اشنا ځما نه مرور دی
د لاس بنګړي مې خوږ اشنا په بې صبري غواړي
سپينې ليچې تشې ګرزي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي
بنګړي د يار په لاس کې خوند کړي
په سپين مړوند د بنګړو شرنګ ښکلې ځواني غواړي
سپينې ليچې تشې ګرزي
ليلا ځمانه شنه بنګړي غواړي

۲۰۰۷/۱۲/۲

څلوريزه

زه افغان يم خپل وطن راباندې ګران دی
اتحاد او ورور ولي ځما ارمان دی

چې يې مينه دوطن يې ده په زړه کې
افغاني داهموطن را باندې ګران دی

مهاجرت

خلکو دا ظلم دا وحشت به وی تر کومه پورې؟
خاونده ستا د قدرتونو نه به مو تمه وشي ؟

دغه ناتار چې نن سبا په ولسو روان دی
ددې وحشت دختمیدو نه به څه تمه وشي ؟

که داسې نه وي نو راپاڅه ای مظلوم ټبره
یو لوی تحریک د ولسو نه به څه تمه وشي

افغاني ستا کلي باندې چې ورانوي نه ګورې؟
ددې ورانکار سړي خورو نه به څه تمه وشي ؟

۲۰۰۹ - ۱ - ۲۹

مهاجرت

څه تمه وشي ؟

دغه تغیر او بدلیدو نه به څه تمه وشي ؟
د جهانخوارو د وعدو نه به څه تمه وشي ؟

دا به رښتا وي هغه څه چې دوی وعدې ورکوي؟
د نوي مشر تدبیرو نه به څه تمه وشي ؟

خلکو د ظلم او ورانکاره سرمایې نظام نه
ددو هوښیاره لېونو نه به څه تمه وشي ؟

روزګار به بیا خپل ازموینه راڅرګنده کاندي
زمونږ د بربادو ارمانونو نه به څه تمه وشي ؟

هغه ظالم پاچا د ظلم د انجام نه وروسته
د دغه ځوان د کړو وړو نه به څه تمه وشي ؟

که خپل که بیگانه ده

چا وران کړو دا وطن چا ترې لوټ کړې خزانه ده
که خپل که بیگانه ده
چې خپل یې ورانوي بیا د پردو نه څه ګیله ده
دا څنګه زمانه ده ؟

هر چا تر خپله وسه دا وطن کړلو خراب
څوک ناست دی بلډنګو کې په ډالر کوي حساب
څوک پروت دی په خیمه کې له یخنۍ نه شو کباب
هر چا ده غړولې د خپل خوښې ترانه ده
دا څنګه زمانه ده ؟

په نوم د عدالت دی خو خیانت پکې چالان دی
غریب پدې وطن کې د مارہ نس په ارمان دی
دا ملک چاته جنت چاته په مثل د زندان دی
هستې یې رانه لوټ کړه د ډالرو یارانه ده
دا څنګه زمانه ده ؟

خلک لاړه تر کیهانه موږ په خپلو کی جنګیږو
پدې عصر وزمان کې د پردو په ډول ګډیږو
نفاق او تربګني کې هېڅ مطلب ته نه رسیږو
وطن په نامه یو شئ صرف همدا یوه چاره ده
دا څنګه زمانه ده ؟

ټینګ عزم افغانی او وروګلوي مو سعادت دی
وطن ته د بادردو هیواد والو ضرورت دی
یووالی اتحاد زمونږه پوهه دی همت دی
وطن به شي اباد که دا مو عزم او اراده ده
دا څنګه زمانه ده ؟

۲۰۰۸ / ۲/ ۲۵
مهاجرت

ګل به خجالته وي ستا ښکلي رخسار نه بيا
لرې به اغيار شي ياره ستا راتلو سره

زه خو د وفا تمه صرف خپل اشنا نه کړم
زړه به مې قرار شي ياره ستا راتلو سره

ما دې د ښايسته حسن لوړ انداز ليدلی دی
ژوند به لاله زار شي ياره ستا راتلو سره

زه په افغاني رسم يار ته تمه ، تمه يم
خلاص به انتظار شي ياره ستا راتلو سره

----

۱۷ / ۱ /۲۰۰۹

یاره ستا راتلو سره

باغ به مې ګلزار شي یاره ستا راتلو سره
ژوند به نوبهار شي یاره ستاراتلو سره

یاره ستا د ښکلي مخ چرته هم ثاني نشته
زړه به ځوان ماليار شي یاره ستا راتلو سره

هسی محبت چه کړی توربورا په ګل باندی
داسی به روزګار شی یاره ستا راتلو سره

زړه خو ستا د خوږ زړګي خوږ نظر په تمه دی
روغ به دې بیمار شي یاره ستا راتلو سره

ښکلي ارزوګانی دي ښکلو ارمانو نه سره
ورک به مې تلوار شي یار ستا راتلو سره

خیبره

خیبره ستا لیدو ته د ځلمو سره درځم
ستا جګو جګو غرو ته د پښتو سره درځم

اغیار که چیرې لارکې د اغزو دامونه کیږدي
هیڅ ډار مې ترې نه شي ابله پښو سره درځم

زما د نیکو کورېې تاکې ښکلې تاریخونه دي
میړانه نارینتوب او د اسرو سره درځم

پردی که په خپل زوراو په طاقت باندې نازیږي
زه خپله پښتونوا له او شملو سره درځم

دا ستا په سردرو کې د میړانې هدیرې دي
مزار ته یې د سرو ګلو غنچو سره درځم

جنوری ۲۰۰۷

توپیر

ما د خیالونو د باغچو ښاپیرۍ
دهوسونو د دنیا ناوکۍ
په سمه ورځ او په رڼا ولیده
ما یوه ښکلې تماشا ولیده
زه د حسنو میلمه شوم
د ښاپیرو میلمه شوم
هلته زه پوه شوم په دې
چې دخوندونو او خیالونو دنیا
د هوسونو دنیا
درڼا ورځې د خوندونو سره
خوږو وختونو سره
تعبیر په څه انداز دی
توپیر په څه انداز دی

دیسمبر ۲۰۰۵

۳۱

د یار مینه

د یار مینه زوریدل دي بل څه نه
په سور اور کې سوزیدل دي بل څه نه

چې د چا په زړه کې اور د مینې بل شي
مایوسي ده ژړیدل دي بل څه نه

د پتنګ د مینې بد شانته انجام دی
په لمبو کې لمبیدل دي بل څه نه

د جانان مینه د سره قربانی ده
په سور اور ورته دنګل دي بل څه نه

۲۰۰۸- ۳ - ۲۲

تر څو به خپل میځ کی جنګونه کوو
د بل په لمسه ورور وژنه کوو
څه بی حسابه مو تورسری ، ماشومان مری
له هری خوا نه افغانان مری

دلته کی مینه محبت مری
دلته افغان دلته همت مری
دلته ناهید او د نازو انا لمسیان مری
له هری خوا نه افغانان مری

راځی ای ټولو ډلو ډلو خلکو
په بیلو لارو ویشل شوو خلکو
که یو لاس نشو هم وطن هم مو ایمان مری
له هری خوا نه افغانان مری

۲۰۰۹ - ۸ - ۴

۵۳

يووالی

لا تر څو به زمونږ ګران وطن ورانیږي
لا تر څو به زمونږ کلی لا نړیږي

ورنو لږ څه د تدبیر نه کار په کار دی
په یووالي باندې هر مشکل سمیږي

چې یووالی وروروګلوي یې په نصیب شي
افغانی وطن به خا ماخا جوړیږي

٢- ٩ - ٢٠٠٧ کال
مهاجرت

٣٢

حالت

زړه ته کله کله راشي مايوسي
خفه کيږود نااهلو په دوستي

که له يو خوا مو هجران زړګی کباب کړ
بيا د بلې خوا دی غم د بې وسي

عاقبت به مو وکومې لورته بيايي
چې رټلی ګڼو ژوند د سالوسي

د خوارانو سره خوار يو موږ په طبع
د خانانو دود مو ځانله لمسوي

موږ چې وګورو د ماتو زړونو خلک
پرې زورېږو ډېر بې حده په راستي

چې د عدل په بازار کله ورګډ شو
د سرو ، سپینو فرق یې وینو سم دستي

۳۳

په کوزاو بر کی

په کوزاو بر کی نن بی شمیره انسانان مری
له هری خوا نه افغانان مری

څوک د طالب څوک ترهګر په نامه
څوک داجیر څوک دنوکر په نامه
زموږ زاړه زموږ تنکی، تنکی ځوانان مری
له هری خوا نه افغانان مری

دنیا روانه ده کیهان لټوی
په علمیت کی ټول جهان لټوی
زموږ مکتب زموږ شاګرد پوه استادان مری
له هری خوا نه افغانان مری

موږ انسانیت او عدالت یادو
موږ تل انصاف او صداقت یادو
خو په عمل کی هم منصف هم مسلمان مری
له هری خوا نه افغانان مری

۵۲

راشه چه سپرلی دی شم

راشه چه سپرلی دی شم ګلزار دی شم
راشه چه د بدی ورځی یار دی شم
ستا د پاکی مینی محبت کی یار
ژوند شمه ورمه شمه بهار دی شم
نه شته بله لار نه بل تدبیر چیری
راشه چه مرهم دی شم قرار دی شم
ته ما ته په مینه مینه وګوره
زه به دی لمبه شمه انګار دی شم
ما سره جذبه د ه محبت زړه کی
راشه چه کاکل دی شم سینګار دی شم
مینه د اخلاصه سره خوند کوی
راشه چه د مینی وفادار دی شم

هسکه غاړه زیب لری امیل سره
راشه چه د سپینی غاړی هار دی شم
شرنګ دی د پایزیب په زړګی ښه لګی
راشه چه پایزیب دی شم شرنګار دی شم
۲۰۰۹ - ۵ - ۲۲

۵۱

موږ په مینه د اشنا هسې صادق یو
چې مجنون ورته عاجزدی په دوستي

افغانی چې دکوم چا په مینه سوزي
د هغه نګار په مینه کړي مستي

کال **۲۰۰۵** مهاجرت

مینه څه ده

دغه چته ښکلا ګوره
وای په مینه نه رسیږم

خپله مینه کې لمبیږي
وای په چل یې نه پوهیږم

مینه اور مینه سیلاب دی
مینه ژوند مینه کتاب دی

مینه پوهه ده علمیت دی
مینه کار دی شجاعت دی

مینه سیند دی لوی دریاب دی
مینه شرنګ دی یو رباب دی

۳۵

دا مو په خپله په ځان وکړه
چې د پردو په لمسون خپل کور ورانونه

راځی چې خپل وطن اباد کړو
تر څو به ګالو د پردیو پیغورونه

وطن د ټولو شریک کور دی
دا دشمنان مو په قومونو بیلوینه

د اتفاق نه هرڅه جوړ شي
راځئ چې یو کړو افغاني خواره قومونه
----
۱۲ / ۱ / ۲۰۰۸

۵۰

زموږ مینه زموږ ګران افغانستان دی
زموږ مینه زموږ ژوند زموږ ایمان دی

بې وطنه چې او سیږي په غربت کې
خوږ ژوندون ورته په مثل د زندان دی

زموږ مینه زموږ هیله ده ارمان دی
اتفاق او ورورګلوي د هر افغان دی

دا وطن په ورورګلوۍ باندې جوړیږي
په یووالي باندې هر مشکل اسان دی

د وطن غیږه کې مې کور دی

ماته پردي مالت کې خوب کله رائینه

دوطن خاورې به رانجه کړم
دا پردیسي ژوندون می هردم زوروینه

چې مو تاریخ ته نظر وکړو
جگړې شملې مو د پلرو را یادې شینه

۴۹

مینه بحر دی طوفان دی
مینه دا فانی جهان دی

مینه ښه شانتې نغمه ده
یوه ښکلې ترانه ده

دا د ژوند مانا ده مینه
هم د خوند مانا ده مینه

څوک د خدای سره کړي مینه
د عقبا په لارې سر دی

څوک په دی فاني جهان کې
د ریا په لارې سر دی

مینه کور مینه دلبر دی
مینه زور دی او هم زر دی

۳۶

څوک د کار سره کړي مینه
څوک مین په خپل هنر دی

څوک روزګار سره کړي مینه
هم پیشوا دی هم رهبر دی

د یار مینه زوریدل دي
په سور اور کې سوزیدل دي

د پتنګ انجام د مینې

په لمبو کی لمبیدل دي

د مین په برخه ګوره
مایوسي ده ژاړیدل دي

د جانان مینه د سره
(په سور اور ورته دنګل دي)

۲۰۰۸/ ۱/ ۹

زموږ مینه

دا د مینې عجیبه لویه دنیا ده
څوک په مینه کې مجنون څوک یې لیلا ده

چې په مینه محبت کې دی تېر شوی
مینه کړې ده درخو ده که رابیا ده

مینه څه ده مینه سیند دی لوی دریاب دی
مینه پوهه ده علمیت مینه کتاب دی

د یار مینه زوریدل دي بل څه نه دي
په سوراورکې سوزیدل دي بل څه نه دي

د پتنګ د مینې بد غوندې انجام دی
په لمبو کې لمبیدل دي بل څه نه دي

دلته سترې بادشـــاهۍ وې
ډیرې لـوې امپراتورۍ وې

څوک چنګیز په شان مغرور ؤ
نا پیـــلون هم لوی باتور ؤ

لږ عبرت ژوندته پــکار دی
کبر جن سړی تل خـــوار دی

نن دا مست چې پــــه ډالر دي
دوی د ځـــــانه بې خبر دي

سبا خـــــدای له په رفتن دي
بس محتـــــاج د یو کفن دي

»»»
۲۰۰۹ - ۸ - ۲۷

۴۷

تر څو به دا نفاق وي

راځی چې جوړ کړو دغه وران کلي کورونه
ورونږو تر څو به دا نفاق وي

راځی چې یو کړو دا خواره واره قومونه
ورونږو تر څو به دا نفاق وي

ګودرمو وران پېغلې سرتورې شولې
د ورور ګلوی خبرې نورې شولې

کلي بانډې مو رانسکورې شولې
ځوبه د بل په لمسون خپل کوروړانونه
وروڼو تر څو به دا نفاق وي

دا وطن مینه غواړي کار غواړي
بیا جوړولو ته یې زیار غواړي
ښکلو باغچو ته یې ملیار غواړي
تر څو به اورو د پردیو پیغورونه
وروڼو تر څو به دا نفاق وي

وروڼو تدبیر او علمیت دی په کار
لوړ شجاعت او صداقت دی په کار
بیا رغونې ته همت دی په کار
راځی پوره کړو د کالونو ارمانونه
وروڼو تر څو به دا نفاق وي

دا مو د کلو او بانډو وطن دی

دا د ښایست د منظرو وطن دی
د ولسونو ، پرګنو وطن دی
سره جرګه کړو افغاني ټول ولسونه
ورونږو تر ځو به دا نفاق وي

۳-۸- ۲۰۰۷ کال مهاجرت

موقعه

دا ژوندون یوه موقعـــه ده
د چاته لنـــډه چاوږده ده

دا مـــــوقعه ده هغه چاله
چې فرصت لري سبـــــا له

خو په هر شي کې انجام شته
ځوک صادقه هم بدنام شته

پوه او ښــه خلک تیر شوي
بد په بد نامـــــه یاد شوي

خـــاطرې ترې پاتـه کیږي
نیک په ښه نامـــه یادیږي

د ژونــــدون په پړاوو کې
په وختـــــونو زمانو کې

ډیرؤ ستر ستر قدرتـــونه
د بــد بې وې مقـــــامونه

ګډ شوه په ډول د اجنبي رنګ په رنګ
څه بې وقاره حیثیتونه تېر شول

هسکه شمله مو د نیکو شوه ټیټه
د پردو رسم او رواجو نه تېر شول

دا بې فرهنګه د فرهنګ تر نامه

زموږ د کلتور او له دودونه تېر شول

د ا د تاریخ او افغانیت دښمنان
دوی مو لستوڼي کې مارونه تېر شول

افغاني ! نه رسي منزل ته هغوی
چې د وطن او ولسونه تېر شول

۲۰۰۸ - ۱۲- ۲۸

برول - جرمني

۴۵

ځوانیمرګه اوزلیم

یوه مینه یوه ناز یوه ادا وه
یوه ښکلې نازنینه دلربا وه
خوږې سترګې محبت سره اشنا وه
هغه لاړه د عمرونو مسافر شوه

هغه لاړه مور او پلار يې په غم ژاړي
د ځوانۍ د مرګ بهار يې په غم ژاړي
زموږ کلی زموږ ښار يې په غم ژاړي
اوس هغه د مور او پلاره مرور شوه

تر سهاره پرې د غم او ښکې جاري دي
مور او پلار يې اوس د غمه لېوني دي
نا اميده په ژړا خپل او پردي دي
په ځوانۍ کې دا پېغلوټه چيرته سر شوه

نن اسمان دی په دې کلي راولېدلی
دلته هر سړی بې حده زوريدلی

دې ماتم کې هر چا ځان دی خپل ګڼلی
ښه ځواني يوه ښکلا نن د نظر شوه

ربه ستا دنيا ده لويه ته بادشاه يې
هم د خان هم د غريب هم د ګدا يې
ته په خپله په خپل کار باندی اګاه يې
نن خور لانه مې د لور خاورې په سر شوه

۲۰۰۷ /۲/ / ۲۰۰۷ ماين اشف جرمني

حالات

په مونږه ځو مره چې وختونه تېر شول
هو مره عبث مياشتې، کالونه تېر شول

دا به تقدير وه که مو خپله ګناه

په ژوند مو څومره کړاونه تېر شول؟

خلک ښه ژوند ته ترکیهانه لاړل
زموږ عبث ټول فرصتونه تېر شول

دغه حالاتو په موږ څه ونکړل
زموږ روزګار کې ټول غمونه تېر شول

یوه لحظه ارام مو ونه لیدو
څه ناکراره مو فکرونه تېر شول

خپلو مینځو کې جنګوي افغانان
څومره وحشت څومره ظلمونه تېر شول

ځو مره شو بې قدره په بل ملک کې چه او سېږو
دلته هر قدم کې د افغان په نوم زوریږو

ټول عیب په نفاق کې دی په دی هم نه پوهیږو
وران شو د شملو وطن د کلو او بانډو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلرو او د نیکو وطن

راشی خوږو ورنو سره یو شو د افغان په نوم
ځو به دا نفاق وی چه بیلیږو این او ان په نوم
لاس د وروری ورکړو د اخلاص او د ایمان په نوم
جوړ کړو افغانی وطن د سولې او جرګو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلرو او د نیکو وطن

د نیکو وطن

خپل وطن مو وران شو شو محتاجه د پردو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلرو او د نیکو وطن

دلته مجبوری ده هر قدم کی تکلیفونه دی
دلته بی وسی ده هری خوا ته پیغورونه دی
بل غوندی قانون دی مایوسی ده زحمتونه دی
هر قدم پردی دی راته ښکاری د میرو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلر او د نیکو وطن

څه خو په وطن کی ډیربی شمیره شهیدان شول
ډیر نور د ابرو خلک بی کوره بی کاروان شول
څوک بیا په پردی وطن کی پاتی په بیابان شول
دا نسل لا پریږده چه مو وران شو دلمسو وطن
خوږ دی خلکو خوږ دی د پلر او د نیکو وطن

یاره ستا په اننګو کې
چه د چا د وینې رنګ دی

پردیس خیالونه

د شعرونو مجموعه

سمیع الدین سعید افغاني

د شاعرپه هکله

سمیع الدین افغاني د ارواښاد مولوی محمد سعید
(سعید افغاني) ځوی د مرحوم مولوی عبدالمجید
لمسی په کال۱۳۳۳ه ش کی دلغمان ولایت د عمرزیو
د قریی دخیراباد په کلی کی زیږیدلی دی ۰ لمړنی

زدکړی یی د لغمان ولایت د حیدر خانیو په د هاتی
ښونځی ، دمهترالمک ابتدایه ښونځی او د روښان په لیسه کی سر ته رسولی او په کال۱۳۵۹ کی د لوړو او مسلکی زده کړو د لاسته راوستلو په مقصد بهر ته واستول شو۰ اوپه کال۱۳۷۴ کی د کورنیو چارو په وزارت کی د ډګروالی تر رتبی رسیدلی دی۰
سمیع الدین افغاني شاعردی چه یوه شعری مجموعه یی (د وطن یادونه) تر سر لیک د چاپه راوتلی ، ډیره برخه لیکنی او شعرونه یی د وطن په مجلو او جرایدو کی خپاره شوی دی او همدارنګه ډیر شعرونه یی دوطن دوتلو شاعرانو او لیکوالانو په علمی سیمینارونو او مشاعرو کی دکلمه شوی اویو تعداد نوریی دوطن د خوږ ژبو سندرغاړو په خوږو اوازونو کی کمپوز شویدی لکه بنجاره ماما ، پل دی بختو رشه ، همت ، افغان یم ، دا افغانستان دی ، یاره ستا په اننګوکی او ډیر نور چه زموږ دهیواد والو د توجه وړ ګرځیدلی دی ۰
سمیع الدین افغاني متاهل او د پنځو اولادو څښتن دی ۰
لیکل شوی اثار
د وطن یادونه - شعری مجموعه، د خاپوړو کلی - دکلو او بانډو کیسی
پس از بازګشت - داستان کوتا ، پردیس خیالونه -شعری مجموعه
(دحق دلاری فرهنګی ټولنه۰ جرمنی)



SAMEUDDIN AFGHANI